مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۵

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یو اویاېمه برخه)

**موسی جان**

سردار. د امیر یعقوب خان زوی چې مور ئې د سردار یحیی خان لور وه په ۱۸۶۸ز کال کې زېږېدلی دئ. د ولیعهد په نوم ئې شهرت درلود. په ۱۹۱۲ز کال کې د هندوستان له تبعید څخه افغانستان ته راستون سو خو بېرته هند ته ولاړ. (دهٔ یو زوی درلود چې محمد علي نومېدهٔ چې د سردار سلیمان خان له لور سره ئې وادهٔ کړی وو او له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د پخواني پادشاه محمد ظاهر د پروتوکول مشر وو. سلیمان په ۱۹۷۱ز کال کې وفات سو.) موسی په ۱۹۳۱ او ۱۹۴۷ز کلونو کې له افغانستانه لیدنه کړې ده او په ۱۹۵۱ز کال کې په کابل کې وفات سو.

**ډگر جنرال محمد موسی** : وګورئ : نورستاني

**نجم الدین مصلح**

د ۱۹۳۷ز کال په شاوخوا وو کې د بدخشان په شهرانِ خاص کې زېږېدلی دئ. په خاش او د کابل په دارالمعلمینو کې ئې زده کړې کړي دي. بیا ئې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د انګلیسي په څانګه کې خپل لیسانس تر لاسه کړ او خپله ماستري ئې د هندوستان له لکنهو څخه تر لاسه کړه. په بېلابېلو ځایونو کې ئې د ولسوال په توګه کار کړی دئ. د نیمروز والي. د کورنیو چارو د وزارت کارمند.

**میر فیروز الدین مصطفی**

د علومي د کورنی غړی. د استقلال په لیسي او د کابل پوهنتون د طب په پوهنځي کې ئې تحصیلات کړي دي. د جمهوریت روغتون رئیس. د ۱۹۷۷ز کال د جنورۍ په میاشت کې وفات سو.

**عبدالعلي مستغني**

د ملا رمضان زوی په ۱۸۷۸ز کال کې زېږېدلی دئ؛ دوی په قوم هوتک دي چې په وردکو کې اوسېږي. په اسلامي علومو کې ئې تحصیلات کړي دي. د سراج الاخبار د کتابتون په څانګه کې ئې کار کړی دئ. د حبیبیې د ښوونځي ښوونکی. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۳۴ز کال پورې د ادبي ټولنې غړی. د پښتو او دري ژبو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شاعر. د اشعارو دیوان ئـې په څلورو ټوکونو کې په کابل کې چاپ سوی دئ. په ۱۹۳۴ز کال کې وفات سو. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو ده.

**ستر جنرال عبدالکریم مستـغنـي**

هوتک دئ، د عبدالعلي مستغني زوی په ۱۹۱۶ز کال کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۳۴ تر ۱۹۳۷ز کال پورې د کال حربي پوهنتون ته تللی دئ. پوځي روزنه ئـې په هندوستان او شوروي اتحاد کې لیدلې ده. په ۱۹۳۷ز کال کې ئـې په افغان وسله وال ځواک کې خدمت کړی. په ۱۹۴۶ز کال کې ئـې د جګړن او په ۱۹۵۱ز کال کې ئـې د ډګرمن او په ۱۹۵۵ز کال کې د ډګروال رتبې ته ارتقاء وکړه. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د مخابرې د څانګې بولندوی. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د پوځي استخباراتو رئیس. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۵۹ز کال پورې د حربي ښوونځي سرپرست بولندوی. په ۱۹۵۹ز کال کې ئـې د برید جنرال رتبې ته ارتقاء وکړه. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د ملي د فاع د وزارت د پرسونل آمر. په ۱۹۶۴ز کال کې ډګر جنرال سو. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د مزار پوځي والي؛ د داؤود له استعفی وروسته ئـې استعفی ورکړه. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د هرات پوځي بولندوی. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ملي دفاع د وزارت د زغروالو وسایطو او موټرو آمر. د داؤود د کودتا پلان ته ئـې په ورین تندي وکتل خو له مارکسیستانو سره موافق نـهٔ وو. په ۱۹۷۳ز کال کې ستر جنرال. د ۱۹۷۳ له جنوري تر ۱۹۷۶ز کال پورې ستر درستیز. په ۱۹۷۶ز کال کې ئـې استعفی ورکړه. د ۱۹۷۶ز کال د جنوري له میاشتې تر ۱۹۷۸ز کال پورې د پولند سفیر. په ۱۹۷۹ز کال کې ئـې لویدیځ جرمني ته پناه یوړله. وادهٔ ئـې کړی او څلور بچیان لري. په روسي، انګلیسي او تورکي خبرې کوي. د OSULA، د شورئ غړئ.

**عبدالحکیم مژده**

د یار محمد زوی په ۱۹۲۳ز کال کې د پنجشیر په بازارک کې زېږېدلی دئ. د معارف او کرنې په برخو کې ئـې زده کړې کړي دي. د کرنې د وزارت کارمند. شاعر. په ۱۹۸۲ز کال کې زنداني سو.

**نجف علي نباتي**

د کابل د چنداولو د شیعه د کورنۍ د محمد حکیم زوی په ۱۹۰۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې ئـې په کور کې کړې دي او په ۱۹۲۸ز کال کې له دارالمعلمینو څخه فارغ سو. په بابای خودي او د حـبـیـبـیـې (۱۹۲۹)، د ښکلیو هنرونو او حربي ښوونځي کې د فارسي قرائـت ښوونکی. په ۱۹۴۱ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست غړی. په ۱۹۴۷ز کال کې د راډیو کابل د بروډکاسټ مدیر. د باختر خبري آژانس مرستیال رئـیس. شاعر. په ۱۹۷۹ز کال کې وفات سو.

**شمس الدین نابغ**

د قدم زوی په ۱۹۲۲ز کال کې په مزار شریف کې زېږېدلی دئ. خصوصـي زده کړې لري. شاعر. په ۱۹۴۲ز کال کې په کابل کې وفات سوی دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

**عبدالغني نبي زاده**

د پنجشیر په یوې کورنۍ کې زېږېدلی دئ. د استقلال په لیسې او په فرانسې کې ئې د کرنې په ډگر کې تحصیلات کړي دي. د کرنې په وزارت کې مدیر. په ۱۹۸۰ز کال کې فرانسې ته کډه سو. له ۱۹۸۳ز کال راهیسې د ډاکار او سینیگال د کرنې تخنیکې سلاکار.

**لومړی بریدمن غلام، نبي زاده [1]**

(د غوایي له پاڅون وروسته) د انقلابي شورۍ غړی د کورنیو چارو مرستیال وزیر.

**محمد عوض نبي زاده**

هزاره دئ. تر ۱۹۷۸ز کال پورې ئې په دولتي مطبعې کې کار کاوۀ؛ په ۱۹۷۸ز کال کې ددې مطبعې مرستیال رئیس او په ۱۹۸۰ز کال کې د مطبعې رئیس. د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټې علی البدل غړی. د اقوامو او قبائیلو د وزارت مرستیال وزیر.

**محـمد اکبر نادم**

په ۱۹۲۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په حقوقو کې ئې تحصیلات کړي خو په ۱۹۷۵ز کال کې ممثل سو. د اطلاعاتو او کلتور وزارت کارمند.

**محمد یحیی نادم**

د ملا سید احمد زوی په ۱۸۷۳ز کال کې په میمنې کې زېږېدلی دئ. خصوصې زده کړې لرې. منشي. د میمنې د خزانه دارۍ مدیر. له تقاعد وروسته ئې د شیخ عطار، مولانا رومي بلخي او بیدل آثار ولوستل. دی یو شاعر دئ چې دیوان ئې په ۱۹۵۱ز کال کې په میمنې کې چاپ سوی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې وفات سو.

**محـمد نادر شاه**

(له ۱۹۲۹ – ۱۹۳۳ زکال پورې) د افغانستان پادشاه، محـمد زی. په ۱۸۸۳ز کال کې زېږېدلی دئ. د سردار محـمد یحیی خان زوی. په ۱۹۰۶ز کال کې د بریگیډییر [2] ( د نن په رتبې، برید جنرال) په توگه مقرر سو. له امیر حبیب الله خان سره د بریډگیډییر په توگه د هغـهٔ د هندوستان د سفر او په ۱۹۰۷ز کال کې هرات ته د

---

[1] -Nabizada, First LT. Ghulam

[2] - Brigadier : په اصل کې یو فرانسوي لغت دی چې د برید جنرال او ډگروال تر منځ یوه رتبه ده. د انگلستان او فرانسې په پوځونو کې تر اوسه په همدې بڼې ده. زموږ په پښتو قوامیسو کې ئې ډگرمن ژباړلی دئ چې زما په باور ښایې بل ځای ئې ورته نه وي موندلی ځکه په افغانستان کې موږ ډگرمن lieutenant colonel ، ډگروال Colonel او بیا برید جنرال Brigadier General لرو له دې کبله دلته باید هماغه برید جنرال وي او د جنرال نوم دلته معنی یې تېروتنه په قاموس لیکونکو کې رامنځته کړې ده. په پخوانیو اصطلاحاتو کې د بریگیډییر رتبه د عوامو په منځ کې د برگېډ په ډول تلفظ کېدله چې لوړه پوځي رتبه وه. – ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

امير د سفر مل. په ۱۹۱۲ز کال کې ئـې د منګلو د بلوا پر ضد د ځواکونو بولنه وکړه. د همدې خدمت لپاره ئـې د ۱۹۱۲ز کال د دسمبر په میاشت کې د جنرال یا نائـب سالار رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۱۴ز کال کې ستربولندوی یا سپه سالار وګومارل سو. کله چې امير حبيب الله په لغمان کې وژل کېـدهٔ محـمـد نادر شاه هم په لغمان کې وو. امير امان الله خان آزاد کړ او خوست ته ئـې د ځواکونو د بولندوی په توګه ولېږهٔ. د ۱۹۱۹ز کال د مې په میاشت کې ئـې (تهل) [3] ئـې محاصره کړ. د ۱۹۱۹ز کال په اکتوبر کې کابل ته راستون سو. د جنګ /دفاع وزير په توګه مقرر سو او له ټولو سرحدي قومونو سره ئـې د چلند د چارو د پرمخ بیولو مسؤولیت واخیست. د ۱۹۲۰ز کال د مارچ په میاشت کې ئـې د اتحاد مشرقي د ورځپاڼي خپرول په جلال آباد کې پیل کړل چې شکل د بیان ئـې په پان – اسلامي بنه وه. د محـمـد طاهر په نامـهٔ یو زوی ئـې د ۱۹۲۱ز کال د اکتوبر په میاشت کې فرانسې ته د تحصیلاتو لپاره لاړ خو څو موده وروسته په فرانسې کې وفات سو. جنرال محـمـد نادر، امير امان الله خان ته خبرداری ورکړ چې په خپلو اصلاحي ریفورمونو کې په بـېړې او چټکې روان دئ، خو له دې وروسته د ۱۹۲۴ز کال د جنورۍ په میاشت کې په پاریس کې د وزیرمختار په توګه مقرر سو. د ۱۹۲۶ز کال په لومړیو کې شدیداً ناروغه سو او مجبور سو چې له خپلې دندې استعفی وکړي. «ګرس» [4] ته د ناروغۍ په رخصتۍ لاړ او همدلته له خپلو ورونو محمد هاشم خان او شاه ولي خان سره یو ځای سو. له امير امان الله خان سره ئـې لفظي شخړه او دعوی سوه خو په ۱۹۲۸ز کال کې امير امان الله خان اروپا ته د خپل سفر پر مهال هڅه وکړه چې وئـې هڅوي چې بـېرته هېـواد ته ستون سي. د ۱۹۲۹ز کال د فبرورۍ د میاشتې په اتمې نـېټې له هاشم خان او شاه ولي خان سره یو ځای له (مارسي) [5] څخه هندوستان ته لاړ. د ۱۹۲۹ز کال د فبروري میاشت وه چې پـېښـور ته ورسـېدل. د ۱۹۲۹ز کال د مارچ په میاشت کې د کورم له لارې له خوست ووتل. د ګردیز له لارې ئـې د کابل پر لور پرمختګ وکړ، خو په ګردیز کې ئـې د حبيب الله کلکاني د سرتیرو له لاسه ماتې وخوړله؛ ددې ماتې دلیل د غوث الدين خان او د غلزیو شا ته کـېدل ول چې د ۱۹۲۹ز کال د اپریل په میاشت کې خوست ته په شا سول. له دوه وو نور ناکامو پرمختګونو وروسته ورور ول چې شاه ولي د ۱۹۲۹ز کال د اکتوبر د میاشتې په دیارلسمي نـېټې کابل ونیوهٔ. جنرال نادر خان د اکتوبر د میاشتې په ۱۵ کابل ته ورسـېد او په همدې ورځې قبائیلي وګړو د پادشاه په توګه اعلان کړ. د سلطنت پر تخت باندې کښـېـنستل ئـې د ۱۹۳۰ز کال په سپمتبر کې په کابل کې د لويې جرګې له لوري تصديق سول. نادر د هېـواد د په رسميت پـېژندلو په لاره کې ډېرې هڅې وکړې، د هلکانو لپاره ئـې ښوونځي پرانیستل او به بالاحصار کې ئـې حربي پوهنتون جوړ کړ. د طب د پوهنځي بنسټ ئـې کښـېښود؛ همدا د طب پوهنځی وو چې وروسته د کابل پوهنتون د جوړيدلو لپاره هسته سوه. نادر خان ولسي جرګه «شوارى ملي» [6] او سنا

3 -Thal
4 -Grasse
5 - Marseilles
6 -Shura-i-Mili


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

«مجلس ِ اعیان» [7] راتیول کړل چې د افغان حکومت مقننه څانګه سوه. د خپلو مخالفینو پر وړاندې، د هغو کسانو په ګډون چې د امیر امان الله خان د سلطنت د بیا اعاده کیدلو لپاره ئـې هڅه کوله مبارزه وکړه. غلام نبي خان چرخي ئـې د ورانکارو فعالیتونو له کبله په ۱۹۳۲ز کال کې اعدام کړ. نادر خان په ۱۹۳۳ز کال کې د عبدالخالق په نوم د یوهٔ زده کوونکي په لاس چې د غلام نبي چرخي د کورنۍ مزدور وو ووژل سو.

## نور بیا

### ډاکټر مـحـمد اسحق نـادري

د محـمد علم او ګلِ نسا زوی په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زېږېـدلی دئ. لومړنـۍ...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

7 -Majlis-i-Aiyan



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ